# شمالي وزيرستان: شپږ ترهګر وژل شوي

دشمالي وزيرستان دته خيلو تحصيل په ديګان سيمه کې دامنيتي ځواکونو په کامياب عملياتو کې ۶ تندلاري وژل شوي، وسلې او مهمات ترلاسه شوي دي۔







**د ترهګرو د تګ راتګ په اړه د معلوماتو له مخې، امنيتي ځواکونو د تيښتې هڅه ناکامه کړه او د دزو په تبادله کې۶ ترهګر ووژل شول، چې د کالعدم تحريک طالبان پاکستان سره تړاو لري۔ خو د امنيتي ځواکونو ټول کارکوونکي خوندي وو۔ وژل شويو ترهګرو په امنيتي ځواکونو او پوليسو په ګڼو تروريستي بريدونو کې لاس درلود او په نږدې راتلونکي کې يې د سترو تروريستي بريدونو پلان درلود۔**

د ترهګرو پر وړاندې د امنيتي ځواکونو اغيزمنو او ګړنديو عملياتو ترهګر تيښتې ته اړ کړي، خو اوس د تيښتې او پټيدو ځای نه لري۔